AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوارسنگروال ۲۰۲۰/۰۹/۳۰

# افغانستا ن له ۲۳۰کلونو د مخه

## د پارس صفویان، د هند گورگانیان

په دې وروستیوڅوورځو کې دولسمشردویم مرستیال سرورډانش،دځرګندونوپر وړاندې یوشمېرغبرګونونه را مینځته سول،چې ولې داسې بې مسولیته خبرې وکړې؟
زما ددې لیکنې موخه دا نه ده،چې وښیم کنې دافغانستان په معاصرتاریخ کې یوشمېرواکمنوتېروتنې نه دي کړې،زه ددې خبروپخلې نه کووم،ولې کومه ژبه چې سرور دانش کارولې سمه نه ده...ښا یې یونا لوستی انسان هم داسې کاواکه،بېواکه اوبېباکه ژبه،چې اکاډمیکه مخینه نلري وکاروي...
ددې لپاره چې دده ځرګندونې کره کړو، تېروتنې یې ورپه ګوته کړونو دتاریخ یو څو پا نې ورته په مخ کې ړدواوړلړترلږه یې دکره کتنې اخلا قوته پا م را واړوو ...نودې همدې بنسټ له مخې ښه به وي،چې دافغانستان اوټولې سیمې سیاسي اوپوځي چا پیریا ل،چې ۲۳۰کاله دمخه شتون درلود یو لنډ جاج وا خلو...،لړ شا ته ځو :
له چنګیز نه راواخله ترتیمورګورګا نې اوبیا تر ظهرالدین بابرپورې،دومره وژنې اووینې تویونې ،نه یوازې په افغا نستان کې ،بلکې دنړۍ په دې سیمه کې چې شوې ... د نړۍ په تاریخ کې لږ سارى لري .
ولې بیا هم تر ډېره بریده دغو خونړیوپېښواوغمیزوډګراوپلازافغا نستان وو. که موږ یوازې دبېلګې په توګه ، دچنګیز هغه خونړې بریدته تم شو،چې دلرغونې افغانستان په یوه لرغونې ټا ټوبې بامیانو تر سره کړ،چې نه یوازې په ډله ییزه توګه انسانان له مینځه یوړل، ان تردې چې دښځونسونه یې څېرې کړل او دهغو له ګېډویې ما شومان را وویستل او بیا یې وژل...انسا نان څه چې دچنګیز خونړې پوځ دبامیانو ځا ر وې هم له لبه ووژل .
ددغوظلمونو او ډله ییزووژنو په تړاو، ډېر وړاندې تا ریخ ته نه ځو، غوره به وي،چې د مو ضوع پۀ تړاودیادو غمیزوڅوبېلګې دپارس دصفوي شا اسماعیل اوګورګا نې بابرظهیر الدین له یرغلونو او بریدونوپیل کړو :

#### لومړی دپارس صفویان:

له شا ه حسین با یقرا وروسته(۱۵۰۶ز) دافغا نستان په ګا وند کې دنووحکومتونورا تو کېدل زموږ دهېواد لپاره یو بل نوی ګواښ وو،چې دهرات د تېموري ګور ګا نیا نوواکمنۍ ړنګه کړه .
شیبا نې خان یا دوم،چې سمر قند یې ونیو...له امو روده را پوربووت بلخ یې لاندې کړاو تر هرات پورې سیمې وګواښلې...دده ځواکونودهرات شتمنو خلکو ته ګواښ وکړ،که چیرې د تاسوهرتن سل زره مثقاله سره زر رانه وړل وبه وژل شې .
شیبا نې خان دمروې ،مرغاب،اندخوې،بادغیس،هرات،دخراسان ښارونه لکه نېشاپور،مشهد،استراباد اونوروسیمو کې تول وژنې وکړې او شته یې ترې لوټ کړل...(دهندوستان تاریخ۲۹۵مخ اوافغانان له پارس...۳۴۳مخ)
ددې لپاره چې صفوي شا ه اسما عیل دازبکانومشرشیبانې خان ته خپل زورښودلې وي نو دهغه پر ضد یې بریدونه پیل کړل .
لومړی یې دشیبانې نامتو جنرال جان وفا میر زایې ووژه اوبیا یې شیبا نې خان له ۲۵زروپوځیانوسره یوځای له مینځه یووړ .
کله چې دشاه اسماعیل ځواکونودشیبانې خان ککرۍ دشاه اسماعیل حضورته راوړه نو هغه ورته ووېل تنه یې څه سوه؟ هغه هم راوړی . دشیبانې تنه چې افغانا نومروې ته څېرمه ځا ورونه سپارلې وه له هدېرې وویسته اوشاه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اسمعیل ته يې راوړه...هغه امر وکړچې دهغه دوجود نه یوه یوه مړۍ غوښه وخوري..قزلبا شانو دسترکو په رپ دهغه دتن غو ښه پا که وخوړه اوبیا يې دهغه ککرې ته دسرو زروپوښ ورکړاو کله به چې شاه اسماعیل شراب څښل نودشيباني خان ککرۍ به يې په سرراواړوله .
شا ه اسماعیل،چې شیعه مذهب يې ددولت درسمي مذهب پّه توګه ومانه،نو دنورومذ هبونودځپلوپه نیت دهرات جامع جومات ته ننوتل،...دجومات خطیب ته وویل،چې ابوبکرصدیق او حضرت عمرته کنځلې وکړي،ولې کله چې هغه انکار وکړ هغه ې له ممبره را وغورځوه ږیره يې ور وشکوله او بیا يې دممبر لاندې وواژه.
دصفوي شا ه اسماعیل سترګې چې مذهبي فا شيزم اوتعصب ور پټې کړې وې په ډېرې بېباکۍ دده ددربار ملاپه ډاګه ووېل،دیوه سوني وژنه دومره ثواب لري، لکه څوک چې پنځه کا پران له مینځه یوسي،له سوني سره دشیعه مذهب نکاح نارواده، که چېرې یوه سوني مېرمن اومېندواره وي،خېټه يې ورڅیرې کړۍ اونر ماشوم يې په نېزه ووهۍ...(شفاپس از هزار...۷۲۶مخ)
له شاه اسماعیل وروسته،شاه طهماسب واک ته ورسېد ،دی لا چې کله دهرات والي وو، نه یواځې افغا نان ددوۍ دظلمونوله ګواښ سره مخ وه .(۱۵۷۶-۱۵۲۴ز) بلکې دوچکالۍ اوقحطي له امله افغانان له داسې ستونزواوکړاوونوسره مخ شول،چې ان خلکودسپیانو اوپشیانو غوښې وخوړلې .
له یوې خواهراتیانو او په ټوله کې افغانانو دشاه طهماسب دظلمونو له کبله ،چې له افغانانو يې ملا ما توونکې ما لېیه را ټولوله افغا نا ن يې له ستر ګواښ سره مخ کړي ول ...د سا ري په توګه د با بر زوې شهزاده هما یون،چې له افغان سوري شېرشاه (۱۵۴۰ز کال) ماته وخوړه . دطهما سب در بار ته پناه راوړه ،نو بیا دهرات والي امیر خان دېرش ځا نګړي اسونه ،چې دسرو زروزېنونه در لودل دده دهرکلي لپاره تیار کړي ول .نوبیا يې څلور سوه توپونه،سل اوښان،دصفوي شاه اسماعیل توره اوکمربند، خېمې،غالۍ،وربښمیني جا مې په لسګونو نورتوکي،چې دلکونو روپیيوار زښت يې درلود او دا هر څه د هرات دخلکو شتمنۍ وه له زر ګونو جنګیا لیو سره د با بر زوې هما یون ته په واک کې ور کړ شول،چې له افغا ن مشرسوري شیر شا ه سره مقا بله وکړي»(افغانان له پارس۳۵۱مخ)
دطهماسب په زمانه کې هم چې کوم پا څونونه وسول ده هم په ډېرې بېرحمۍ سو ني پا څون وال وځپل او کوم جنګي اسیران،چې نیول شوي ول ټول يې له تېغه تېر کړل ، یوازې هغه کسان ژوندي پا تې شول،چې هغوۍ له وېرې شیعه مذ هب منلی و ه .
د صفویانو پر وړاندې د پا څو ن والوېزې او غورځونه پرې کېدل اوبیا به يې پرې خوړل .دځنو به يې شونډې ور ګنډ لې اوپه پاې کې به يې وژل .(هماغه اثر۳۵۳ مخ)
«در روز ګا ر يې شاه اسماعیل وطهماسب»نومې کتا ب کې په ډاګه شوې،چې دیوتن ژ به يې له شونډوسره وګنډ له او بیا يې خم کې وا چوه او له یوه لوړ ځا یه يې را وغورزوه »(ایران...۳۷۲ مخ) په صفوي در با ر کې یو شمېر سړی خواره هم روزل شوي ول، نو کله به چې خپل دښمنان ونیول ،نو له پو سته به يې کړ، په سیخ کې به وېپیل اوپه مزه مزه به يې خوړل...(افغانان...۳۵۴)
له طهماسب وروسته صفوي شاه عباس به چې شراب وڅښکل نوبیا به يې پا څون وال له زندانه را ووېستل ،چې تر ډېره بریده سونیان او افغا نا ن ووغوړځونه اوپوزې به يې ورپرې کړل ، دیګ ته به يې وا چول، بیا به يې تنا ره ته ور ټېل وهل .
ده به دنېشې په مهال هغه ښکلې او ښا یسته نجونې،چې د پارس له بېلا بېلو ښا رونودر بار ته را وستې وې، نوبیا به يې په محفل کې مستي ور سره کولې ...
په دې تړاوډېرو څېړونکو، لکه کروسنسکي،ډاکترشفا،تاریخې صفوي،سایکس،دپارس تاریخ،جي-پي-تیت او په لسګونوتا ریخپو هانودصفویانود واک له ناوړه کړو وړوپلو پورته کړی دی ...دساري په توګه،د صفویانو دظلم او عیاشۍ په اړه په ځانګړې توګه دصفوی شاه حسین دواکمنۍ په مهال ،له ښکلو او ښایسته نجونوشا هي ماڼۍ ،سلطنتي حرمسراې اوبېلا بېل قصرونه ډک ول .
سربېره له دې چې له ښکلو نجونو سره يې عیاشي او بېباکي کوله،خپلو مېر منو سره يې نا وړه چلن کا وه اوان داسې له تاوتریخوالي ډکې پېښې هم په شا هي ما ڼیو کې تر سره کېدې ،چې نجونو او ښځو ته دځغم وړ نه وې .
همدا لا مل وه،چې ددا ډول ناوړه پېښو په ترڅ کې ، مخکې له چې طهماسب دخپلې مېر منې پر وړاندې په تا و تریخوالي لاس پورې کړي،د همغې ښځې له خوا ووژل شو .
صفوي شاه حسین خپلو ما ڼیو کې،چې په زرګونو ښکلې اوپېمخې نجونې سا تلې ، نو دهغوۍ د چوپړ او خدمت له پاره شپېته زره خسي شوي غلا ما ن ګو ما رلي وو .
له یوې خوا د سلطنتي کورنۍ عیاشي اوبېبا کي وه او له بلې خوا ددوۍ بګنوونکي ظلمونه ول،چې دخپلې ټولواکمنۍ په بېلا بېلو سیموکې ،چې بې شمېره غمیزوته لاره اواره کړې وه ترسره کېدل ،چې موږ دصفوي واکمنو هغه بېلګه یا دولی شو،چې د«شیعه مذ هب د خپرولولپاره يې ۲۵۰زرو په شا و خوا کې د سوني مذ هب اونورو ادیانوپلویا ن ووژل .»(سعیدي سیر جاني...خطي نسخې۱۸۷ مخ ) کروسنسکي په ځغرده وایی،چې صفوي شاه حسین په ځانګړې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

حرم کي دېرش ۳۰ ځانګو ګاني ځنګېد لي،خو که يوشمېر اولا دونه په ورکتوب کي مره شوي نه وی ، شمېر به يي له دي هم ډېر وی .» (کروسنسکي۷۶ مخ )
د افغانستان په بېلا بېلو سيموکي له هرات نه را واخله ترسيستان او همغسي تر کندهار پوري ځاي ځاي دصفويا نوپر وړاندي پا څونونه کېدل،چي موږ په دي لړ کي شاه محمد کلا تي يا دولی شو ،چي له زابل نه نيولي تر غزني پوري دتوخو،نا صرو،هوتکواونوروټبرونو پرملاترپا څون وکړ.
سلطان ملخی،حاجي عادل،با بي خان،ښالم خان ،دولت خان او نورسيمه ييزواکمن يا دولی شو ،چي دصفويانود مذ هبي فا شيزم پر وړاندي پا څونونه وکړل .
صفوي شا حسين ددغويا څونونوځپلوليپاره ګورګين کندهارته واستوه .ده کوښښ کاوه،چي دغلجيو اوابدا ليانو تر منځ بي با وری را مينځه کړي،خومير ويس خا ن نه يوازې دده ناوړه کړو وړواوموخو تراغيزلا ندې را نغی، بلکي کندهار يي دګور ګين له شره وژغوره ...

## د هند ګورګا نيا ن:

له مغلي چنګيز او ګور ګا ني تيمور نه وروسته ددې ټبر يو بل خونړی واکمن ظهرا لد ين با بر وو .«دی د ميرزا عمرشيخ زوې دسلطان ابو سعيد ګورګاني لمسی په ۱۴۹۳ز(۹۰۹ق) کا ل په فرغانه کي چي ديوولسوکالووه په تخت کېناست .» (افغا نان له پارس...۳۴۴مخ)
بابر چي له مينځنی اسيا نه افغانستان ته را پورېووت، له بدخشا نه ترکندوز پورې سيمي (۱۵۰۳ز-۹۰۹ق) يو دبل پسي لا ندې کړې اوبيا يي کا بل ته مخه کړه ...ده چي له محمد خا ن شيبا ني نه وېره در لو ده ډير زر مخ په کندهاروخو ځېد .
بابر تر ډ ېره بريده ،چي کو مي سيمي لاندې کولي هغه يي دجګړې له لارې په زور نيولي او بيا يي دښمن په ډېرې بېرحمی ځپه ...دی پخپله وايی چي ما تر کندها را پورې دغه سيمي څرنګه لاندې کړې؟ «چغانيان رايه راکړه ،چي په کندهار بريد وکړم،کند هار ته مي مخه کړه...کلات ته چي ورسېدم تر يوې درنې جګړې وروسته ، دکلات اوسېدونکووسله پر ځمکه کېښوده...دغلجي قوم نه ډېر غنيمت په لاس را غلي وو .کندهار ته ورسېدم ،زما پوځونو دښمنا ن په مخه کړل ، دکندهار کلا ته ننوتم، خزانه په سنګي کلا کي سا تل شوې وه، خزانه مي لوټ کړه ، بيا ارګ ته ورغلم...زما پوځ دکندهار له شاهي محلونودا ټول سا ما نونه ترلاسه کړل...»(بابر نا مه ۱۱۵-۱۱۴-۸۵مخون )
بابر چي هغه مهال په ۱۵۰۴ز کال کابل ونيو د لومړي ځل لپاره يي له پښتنو سره جګړه پيل کړه او کله چي دهېواد ختيځ ته مخه کړه دجګد لک پښتا نه يي پر مخه کړل او ګڼشمېر افغا نان يي ووژل او دګکيا نپيو مشر«فا جي» يي له ځا ن سره ير غمل کړ.
کله چي له خيبر نه تېر شو، جم،کوهاټ،هنګو،بنواو ان دګو مل تر سين پورې پرمختګ وکړ . ولي دمېشتو قومونوله غبر ګون سره مخ شو،چي موږ يوسفزي،ګګياني،دلزاک،بنګښ،عيسی خيل ،نيازي،لواني اونورلوې اووړه افغان ټبرونه دبېلګي په توګه يا دولی شو .
بابر پخپله وايی،چي کومي سيمي ته به چي ورسېدم، هغه وګړي به مي له لبه وځپل او له ککرېيو به مي ځلي ودرول...دساري په توګه ده په بابر نا مه کي کاږلي،چي په کوهاټ کي مودوه سوه تنه (۲۰۰) ونيول،ځنې ژوندي را وستل او زما جنګياليودځنو پښتنو سرونه راوړل...په هنګوکي مودکمپ مخي ته دپښتنو له ککرېيوبل ځلی ودروو...هنګونه ټل ته په لا ر ه مو دمغرورو افغا نانوله دوه سوه ۲۰۰نوروسرونونه بل ځلی هسک کړ.
بنو ته چي ورسېدو هلته مو يوبل کله منار جوړ کړ،چي ښا يوتن مشر«ښادي خان»چي واښه يي په خوله کي نيولي وو،زما حضورته راغی ...دی وړاندې کا ږي ،ما نه يوازې دوی وژل بلکي ددوی مېږې او رمي مو هم ترې را وګر ځولي او ددوی شته مو ترې لوټل ...دی په پاې کي پهٔ دې ټينګار کوي،چي دافغا نا نو له ککرېيومي ډېر ځلي ودرول او ددوی مشران مي ووژل او بيا له بنونه غزني ته را وا ووښتم .»(وګوری بابرنا مه۲۳۰مخ نه تر۲۳۷مخ پورې)
بابرله دېنه پرته،چي کوم بريدونه په افغا نانوکړيدي، موږ يي يوازې دسا رې په توګه يا دونه کوو،چي څو بېلګې داسي دي : په ۱۵۰۷زکال دکابل دغلجييوقومونوځپل دسکانه په سيمه کي،دومندو وګړو ډله ېيزه وژنه، په کټواز کي غلځييوته درنه مرګ ژوبله اودسل زره مېږواوپسونويرغمل...
دلمغان اوننګهار ديوشمېر قومونوځپل،چي موږ خدرخېل،شيمو خيل،خوګيا ني اونورد بېلګې په توګه يا دولی شو . پهٔ با جوړ جندول، سوات او ان ترابا سينه پورې دزرګونوا فغا نانومرګ ژوبله،چي يوازې په با جوړ کي دری زره(۳۰۰۰) با جوړيان ووژل شول .
په با برنا مه کي دا هم را غلي چي سلطان ويس دخره په بارځلورزره باره وريځې زما پوځ ته را ټولي کړې اوداسي ګوا ښنه هم وشوه، که چېرې وريځې له اړ تيا سره سم برا برې نشي ، نوټول به ووژل شي ...ده له دې سربېره دملک


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

شاه منصور،سلطان علا والدين ، طا ووس خان اوديو شمېرنورو افغا ن مشرانويا دونه هم کړي ده اووېلي ،چي ملک
شاه منصورخپله لوربي بي مبارکه را ډا لی کړه .
له بي بي مبا رکي سربېره دی د بي بي شا بوړی یا دونه هم کوي،چي پهٔ ډېري مېراني را سره وجنګېده او په ليدلويي
ډېرخوا شيني شوم ،چي ووژل شوه .
دظهر الدين بابردظلمونوبي شمېره بېلګي شتون لري،چي ده زرګونه افغا نان له افغا نستانه را وا خله تر هنده پوري
له تېغه تېر کړل اوکله چي هند ته ورسېد ، د هندوستان واک دلودي افغا نانوپه لا س کي وو...بهلول لودي، سکندر
لودي او ابراهيم لودي يودبل پسي دهند هغه ځوا کمن اوټولواکمن تېر وه،چي لسګونه کاله يي په هندوستان حکومت
وکړ .
با بر په ډېري ببر حمی دهند پښتا نه وځپل اولودي ابرا هيم دهند ستر ټولواک يي په سرو وينو ولړه،چي اوس دهغه
بي ککري تنه په پا ني پت کي ښخه ده او دده سر،چي بابرپه نېزه کي ټومبلی وه دډيلي په کو څو کي وګرزوه .
د با برزوی هما يون هم ګنشمېرافغا نا ن په سروويونو ولړل اوپه ۱۵۵۵ز(۹۶۲ق)،چي ډيلي ته ننووت،هرافغان چي
ديوه نوم ښتن وو، هغه به يي واژه اوبيا به يي کور اوشته ورڅخه چور کړل ...اګرې ته چي لاړهلته يي دپښتنو نا
متو مشر«غازي خان سور»په دار وځړاوه او مغلي جنرال حيدر خان په لسګونه قومي مشران وځپل .
دهما يون له مر ګه وروسته(۱۵۵۶زکال۹۶۲ق)دولس کلن ۱۲زوی يي جلا ل الدين اکبرد هند دبا چا هی تاج پهٔ سر
کړ ...دهيموتر مشری لاندي افغانانودمغلي پوځ مشر «تاروي بېک»سره سخته جګړه وکړه،خوما ته يي وخوړه
.مغلي پوځ،ډيلي دافغا نا نو په وينو سور،بيا يي اګري ته مخه کړه .
سره ددې چي دهيمو په شمول پښتنوسر دا رانو لکه با ز بها در،سوري سکندر شاه ، ابرا هيم سوري، کرلا ني دا
ود،شير خان اوپه لسګونوپښتنو مشرانو دمغلي واکمن جلا ل الدين اکبر پر وړا ندي پا څونونه وکړل .خو دبرتش کتا
بتون په يوې قلمي نسخه کي عباس خان سر واني دشير شاه سوري له قوله داسي کښلي دي :
«شيرشا ه سوري(۱۵۲۶زکال) پېښو ته په کوته نيووخرګنده کړه،«دافغا نا نود ماتي لا ملونه ددوی بي اتفاقي اوخپل
مينځي جګړي وی .»(عباس خان سروانی ۲۰ مخ )
مغلي سر دا رانوچي دپښتنو کومي سيمي په بېرحمی وځپلي دهغو سيمونومونه دا سي دي
،الوار،بهار،ميوات،بنګال،پټنه ،جونپور،ګنګا،ګوالير،ما لوا ،خانديش او په ټوله کي له ډيلي نيولي تر اګري او همغسي
دهند شمالي سيمي دبېلګي په توګه يا دولی شو .
له جلا ل ادين اکبر وروسته دجها نګير ګور ګا ني دواک په مهال هم په هند کي «دافغا نانو مقا ومت دوام در لود او
دمغلي ځوا کونو پر وړا ندي په مېرانه جنګېدل .»(هندوستان سياسي نظام کا...۲۹۹ مخ )
دغه بهيرتر هغي روان وو،چي يوسيا سي ځواکمن بهيرد پير روښا ن په مشری پيل شواو دمغلو ظلمونه يي دافغا نا
نوپه مينځ کي دهغوی دپوځی او سياسي شعوردودې او پر مختګ لپاره تبليغول .
جهانګير هم لکه جلال ا لدين اکبر غونډي په افغا نستان کي دخپل واک او ځواک دټينګښت لپاره هاندي هڅی کولي
،خو کله چي دپارس د واکمن شا ه عباس پېښي ځمکي ته ورسېدې، دکندهار دبيا نيولوتکل يي وکړ او دګور ګاني
واکمن جها نګير حکمران عبد العزيزخا ن ته ما ته ور کړه .
هغه مهال چي شاه عباس ومرمغلي شهزاده شاه جهان له ډيلي نه پنجاب ته را غی او د ابو سيد په مشری يي يوستر
لښکرکندهار ته واستوه او صفوي حکمران علي مردان يي ونيواو شاه جهان ته يي وا ستوو .
له افغا نستان(په ځانګړې توګه دهېواد ختيځي اوسهل ختيځي سيمي)نه نيولي دهند پلازډيلي،اګرې اوبنګال پوري
سيموکي چېرته چي افغانان مېشت او ودان وه، دمغلي چا رواکو پرضد يو دبل پسي ملي پا څونو نو ته لاره اواره
کړه،چي مورپير روښان ،دبير روښان داولادي پا څونونه،دايمل خان، دريا خان اوخوشحال خا ن ختک پا څونونه
دسا ري په تو ګه يا دولی شو .
دغو افغا نانو او ددوی په ځېرنور سيمه ييزوقومي مشرانودبابر، هما يون،جلال الدين اکبر،جها نګير،شاه جهان،اورنګ
زېب،محمد شاه ګور ګا ني،احمد شاه ګور ګاني، احمد شاه ګورګاني او بها در شاه ظفرپر وړاندي په بېلا بېلوو ختونوکي
دهغوی دظلمونوپر وړاندي پا څونونه کړي دي،چي په پاې کي افغا ن نوميالبيو، په سرکي ملي مشرمير ويس هوتک
اوستر ټولوا ک احمد شا ه ابدالي،دپارس صفويان او دهند ګور ګا نيان په ګونډوکړل اوپهٔ افغا نستان کي ديوه ملي
حکومت بنست کېښود .
هغه وخت چي صفوي پا چا شا حسين دافغا نانو دځپلو لپاره ګورګين کندهار ته واستوه . دی له خپل بېرحمه پو ځ
سره(۱۷۰۴ز-۱۱۱۶ق) دمي په مياشت کي کندهار ته ورسېد .ده کوښښ کا وه ،چي افغان قومونه يودبل پر وړاندي
ولمسوي او وجنګوي...لومړی يي دولت خان له مينځه يووړاو بيا يي هڅه وکړه،چي دمير ويس خان ملا تړ تر لا
سه کړي،دا څکه ،چي دارغستان ابدا ليانوغو ښتل ،چي له ګور ګين نه ددولت خان غچ اوکسات واخلي .
مير ويس خان په ډېر ې هوښيا رۍ ، تر هغې پوري له ګور ګين سره څرګنده دښمني ونه کړه ،چي ځان يي ځواکمن
کړی نه وواو هر وخت ،چي په دې داډه شوچي اوس يي پا څون بري ته رسېږي ،نوبيا يي په هغه بريد وکړاوخپل
ولس يي له صفوي اسارت نه وژغوره .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ

په دې وروستېيو کې دولسمشردويم مرستيال سروردانش ،چې دافغانستان په ۲۳۰کلن تاريخ پرته له کومې استثنانيوکه کړې دډېرې خواشنۍ وړ دی...دادستي چې ولسمشرغني اوسرور دانش په افغا نستان کې دواک اوځواک څښتن دي،دهمدې سدوزيانواومحمد زيانوله برکته دی،چې اوس يې په دولتي اوحکومتي چارو ،ډېره لګولې ده .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ